Online book

Download from:aghalibrary.com

# د نړۍ کیسې

(لنډې کیسې)

راټولونکی عیدمحمد عابد



# د نړۍ کیسې

(لنډې کیسې)

Download from:aghalibrary.com

راټوولونکـــی: عیدمحمد عابد

# د کتاب پېژندنه

د کتاب نوم: د نړۍ کیسې (لنډې کیسې)

راټوولونکی: عیدمحمد عابد

ډیزاین: عیدمحمد عابد

کال: ۱۳۹۹

خپرندوی: انلاین خپور شوی

زموږ د تلیګرام چینل: https://t.me/ayapohizy

# قاتل خاوند

یو سړي غوښتل چې خپله مېرمن ووهي، نو په لکړه یې څو واره ووهل، خو ناڅاپه یې مېرمن مړه سوه په داسي حال کي چې خاوند یې د وژلو قصد نه وو کړی، بلکي د نوموړي مقصد دا وو چې تادیب ورکړي.
تر دې پېښې وروسته د مېرمني د کورنۍ (خسرگنۍ) څخه په بېره کي سو او د دې پېښې څخه یې هیڅ حل لاره و نه موندل.
نو د کور څخه راووتئ او خپل یو نژدې ملگري ته یې دا کیسه وکړه.
هغه ملگري یې ورته وویل:
د خلاصون یوازنۍ لاره دا ده چې ته یو ښایسته ځوان پیدا کړې او خپل کور ته یې د مېلمستیا په بهانه راوبلې، بیا یې سر پرې کړه او جسد د خپلي مېرمني د جسد تر څنگ کښېږده او د مېرمني کورنۍ تهووایه:
ما دغه ځوان ولیدئ چې زما د مېرمني سره یې زنا کول، نو ما صبر نه سوای کولای ځکه مې دواړه ووژل.
کله چې دغه کس د خپل ملگري څخه دا حیله واورېدل نو د کور مخ ته کښېنستئ تر څو چې یو ښایسته ځوان راغلئ، نو دغه قاتل ډېر ټینگار ورته وکړئ چې زما سره کور ته ولاړ سه.
هر کله چې هغه ځوان د قاتل کور ته ننوتئ نو قاتل راولاړ سو او دغه ځوان یې هم قتل کړ.
هر کله چې د مېرمني قریبان راغلل او دوه جسدونه یې ولیدل او دغه قاتل یعني د مېرمني خاوند هغه درواغجنه کیسه ورته وکړل، نو هغوی بېرته ولاړل او څه یې و نه ویل.
خو هغه ملگری چې دغه قاتل ته یې دا حیله ورښوولې وه، هغه یو زوی درلود، هغه زوی یې په دغه ورځ کور ته نه راغلئ. نو دغه پلار یې اندېښمن سو او د خپل قاتل ملگري کور ته ولاړئ.
د قاتل خاوند څخه یې پوښتنه وکړه چې آیا هغه حیله دې عملي کړه؟
هغه ورته وویل: هو!
ملگري یې ورته وویل: هغه ځوان راوښیه چې تا وژلی دئ.

هر کله چې دغه کس هغه وژل سوی ځوان ولیدئ نو هغه یې خپل زوی وو، هغه زوی چې د ده د حیلې په سبب وژل سوی وو.
همدا واقعه د حضرت علي – رضي الله عنه- د دې وینا مصداق ده:
څوک چې د خپل ورور لپاره څاه کیندي خپله به پکښي لوېږي.

## نمک حرامه باچا او وفاداره سپیان

یوه باچاه چې ډېر ظالم وو، لس سپیان یې درلودل.
هر وزیر چې به په خپله دنده کې تېروتنه وکړه، باچا به سمدلاسه سپیانو ته ور اچوه، هغوی به سره څېري کړ، او وبه یې خوړ، باچا به ددې صحنې سیل کاوه.
یوه ورځ د باچا آشپز/پخوونکي څخه پخلی خراب شو، باچا فوراً  أمر وکړ، چې سپیانو ته یې واچوئ.
پخوونکي باچا ته وویل چې ۱۰ ورځې وخت راکړه، وروسته زه خپله درته راځم.
اجازه ورکړل سوه او پخوونکی سیده د سپیانو ساتونکي ته ورغی د ساتونکي څخه یې وغوښتل چې ۱۰ ورځې به زه ستا دنده تر سره او ته رخصتي وکړه هغه هم موافق سو پخوونکي دنده پیل او هره ورځ یې سپیانو ته خواړه ورکول.
کله چې لس ورځې پورهشوې، پخوونکی د باچا حضور ته ورغی باچا هم أمر وکړ چې پخوونکی سپیانو ته واچوئ!
کله چې یې پخوونکي ته سپیان ور ایله کړل، ګوري چې سپیانو د پخوونکي پښو ته سرونه ټیټ

کړ

پاچا وپوښتل چې دا سپي ولې پخوونکی نه خوري؟

چا ځواب ورنکړ.

بالآخره پخوونکي باچا ته وویل چې ما ۱۰ کاله تاته چوپړ وکړ تا هر څه هېر کړل او په یوه کوچنۍ تېروتنه دې د مرگ حکم را باندې جاري کړ،

اما د سپیانو مې ۱۰ ورځې پالنه وکړه، هغوی مې خدمت هېر نه کړ!!!

باچا وشرمېد او د خپله کاره پښېمانه شو.

## د قران کریم حفظ کول په خپل ناوې

یو زلمي له واده وروسته غوښتل ناوې یې هم دده په څېر د قرآن کریم حفظ وکړي، ناوې یې په مینه غوښتنه ومنله او له نوموړي یې د قرآن کریم د حفظ زدکړه پیل کړه، یوه ورځ زلمي په کور کې د یو شي لټه کوله نو یو داسې بکس یې ترسترگو شو چې پخوا یې نه ولیدلی، له پرانستلو وروسته یې ولیدل چې په بکس کې د قرآنکریم د حفظ شهادتنامې دي او د نوموړې د پېغلې نوم پکې لیکلی دی. په حیرانتیا سره یې له مېرمنې وپوښتل چې ولې دې زه پخوا نه خبرولم چې ستا قرآن کریم یاد دی؟

مېرمنې یې ځواب ورکړ چې ما غوښتل ستا له خولې یې بیا واورم، دا ځل یې له تا زده کړم، که مې نیمگړتیا لرله، سمه به یې کړم، او که نه وه، ډاډ به راکړي او دا چې ته مې استاذ شې؛ نو دواړه به یو ځای جنت ته لاړ شو.

# د تعمیراتو انجینر

د تعمیراتو انجینر ډېر کلونه په یوه کمپنۍ کې کار کوه په عمر چې پوخ شو نو نیت یې وکړ چې نور به کار پرېږدي او خپلې کورنۍ سره به ګډ ژوند کوي د کمپنۍ مشر ورته وویل:
سمه ده په یوه شرط رخصت درکوم هغه دا چې مونږ ته یو ښه کور جوړ کړه کله چې د کور جوړول پای ته ورسېدل بیا تاته د رخصت اجازه ده

انجینر هم له ناچارۍ په نه زړه خبر ورسره ومنله او په کور یې پیل وکړ په بیړه او بې پروایۍ یې د کور کار روان کړ چې ژر له کاره ځان خلاص کړي د بېړې او ځان خلاصولو کار خو تش تپل وي په کم وخت کې د کور جوړول پای ته ورسېدل او د کمپنۍ مشر ته یې وسپاره د کمپنۍ مشر ورته موسکی شو او ورته یې وویل:
له کمپنۍ سره ستا د زیات وخت تیرولو او اوږد کار د خدمت په بدل کې دا کور تاته په تحفه کې درکوو، انجینر ټکر وخوړ هک حیران پاتې شو او په خپل بیړه او بې خونده کار سخت پښیمانه شو چې په خپل لاس یې د ځان لپاره د ټول عمر کور څومره بې کاره جوړ کړ.

# دوه ملګري

دوه ملګري چې د يو نوم خان او د بل نوم ساجد وو.
دغه دواړه ملګري ډېر زيات ګناهګار وو،

هرې ګناه ته به يې لاس اچوه يوه ورځ خان خپل ملګري ساجد ته وويل: ما د مسجد د امام له ښځې سره اړيکه جوړه کړې ده او نن ورځ يې له ما څخه ضروري غوښتنه کړې چې مازيګر بايد کور ته ورشم؛

خو زه وېرېږم هسې نه چې د مسجد امام (خاوند) يې رابانديې راشي نو ته داسې وکړه چې له لمانځه څخه وروسته له امام سره کښينه او په خبرو يې مصروف وساته

ساجد همداسې وکړل له لمانځه وروسته له امام سره کښيناست او تر ډېره وخته يې په خبرو کې بوخت وساته کله چې امام غوښتل پاڅيږي ساجد خپل ملګري خان ته زنګ وواهه او د امام له ورتګ څخه يې خبر کړ خان هم په ډېره بيړه د ساجد څنګ ته را ورسيد او څه يې چې کړي وه ټوله کيسه يې ساجد ته وکړه.

دا کيسه تر ډېره وخته همداسې روانه وه ساجد به د مسجد امام په خبرو مشغول ساته او خان به له وخت څخه په استفادي ناروا اړيکې پاللي په همدې کې د مسجد د امام او ساجد د زيات کښيناستلو له کبله د دواړو ترمنځ دوستي او ملګرتيا جوړه شوه تر دې پورې چې د ساجد زړه په امام وسوځيد او خپل ضمير ته به سخت خجالت وو

يوه ورځ يې له ځان سره کلک تصميم ونيوه چې نن ورځ به امام ته ټوله کيسه کوي تر څو د خپلې ميرمن له خيانت څخه خبر شي.

کله چې د امام څنګه ته ولاړ ورته يې وويل: زه ډېر تاسف کوم چې زما ناسته له تا سره د الله لپاره نه وه زه له تاسره ځکه کښيناستم چې خپل ملګري (خان) ته د ناروا اړيکو زمينه برابره کړم؛

ځکه هغه ستا له میرمن سره ناوړه اړیکي لري د مسجد امام په ډېرې حیرانتیا سره وویل: ما خو تر اوسه واده نه دی کړی نو ښځه مې له کومه کړه؟

دا خبر د ساجد په زړه د خنجر گذار وو.

آیا تاسې پوه شوۍ چې، خان د چا کور ته ورتگ کوه؟

خان به هر مازیگر د ساجد کور ته ورتگ کاوه.

## دسمال

هوا ښکلې وه نر باد لگېده، نه د گرمۍ او نه هم د یخنۍ احساس کېده.

د پسرلي ورځې همداسې ښکلې او په زړه پورې هوا لري.

ورځې خپله لمن نغاړله شېبې د شپې په لور روانې وې،

لمر ورو، ورو له ځمکې خپلې وړانگې ټولولې،

سیوری هم د لویدیز له خوا په ډېرېدو و.
له خپلې مینې سره مې ژمنه کړې وه چې د لمر د لوېدو په وخت به یې باغ ته ورځم او یوه شېبه به یې دیدن کوم.
ټاکلې نېټه را ورسېده، په ځمکه ځای، ځای د مازیگر سیوری پروت و.

په ټاکلي وخت روان شوم له هغې سره د زړه خواله ته ناکراره وم غوښتل مې د زړه حال ورته ووایم.

ورته ووایم چې نور یوازې او له دې پرته ژوند نه شم کولای،

باید چې ژر یو بل ته ورسیږو او تل د یو بل په څنګ کې خوشاله ژوند وکړو.
له خپلو سوچونو، ویرو او خوشالیو سره یو ځای روان وم.

ویره ځکه وه، نه چې د دوی د کورنۍ او یا بل څوک مو ووینې.

نو څه به وایي چې زه څوک یم او هلته څه کوم.
له خپل کلي څخه تېر شوم دوی له خپل کلي څخه لرې د خپلې ځمکې په یوه څنډه کې کور جوړ کړی و.

زموږ او د دوی د کلیو تر منځ یو سېند بهېږي چې سیمې ته یې یوه ځانګړې ښکلا ورکړې.

د سېند دواړو لوریو ته زړه وړونکي شنه ځنګلونه ولاړ دي چې د انسان روح تازه کوي.
د پله لاره اوږده ده نو ځکه مې د سېند په غاړه پایڅې پورته کړې، په کراره په اوبو کې ورښکته شوم، لږ چې په کې لاړم په یوه ښویه ډبره مې پښه وښویېده له امله مې یې دوه درې سرغوټې وخوړې او په سختۍ راپورته شوم لاسونه مې نه شوای تکیه کوای ځکه چې لاسونه مې هم په ښویو ډبرو ښویېدل د سیند غاړې ته مې ځان ورساوه. په یوه شنه پوله ودرېدم چې له جامو مې اوبه وبهېږي، سر تر پایه مې جامې لندې وې. د دوی باغ هم سېند ته نږدې و. جامې مې نیښتېږلې چې په کړس کړس مې د خندا غږ واورېد. غږ خوږ را باندې ولګېد ځکه چې هغه د ګل پاڼې غږ و، هغه غږ و چې د نړۍ تر ټولو غږونو ماته خوږ و. غږ یې زما زړه تازه کړ.
زه خبر نه وم چې دا به یې زما له پاره وروستۍ خندا او خوشالي وي. ګل پاڼه په خپل سره سالو او سپین کمیس کې د باغ د ونو د شنو پاڼو په منځ کې داسې ښکارېده لکه د ګل سرې پاڼې چې

په شنو پاڼو کې ښکاري.
څنګ ته یې ور روان شوم، دومره په مینه یې راته کتل چې د تاثیر له امله یې دویم ځلې په پوله وښویېدم او ټولې جامې مې په خاور ککړې شوې پښه مې په پوله وښویېده د پټي په ډنډ اوبو کې ونښته له همدې امله دویم ځلي سیند ته لاړم خو تر شا شا مې دې ته په مینه کتل او دې راته خندل.
بېرته راغلم خو ډېر ورڅخه شرمېدم ځکه چې په مخ کې یې دوه ځله لوېدلی وم او دې مې په سېند کې د لوېدو او ټولو غوټو ننداره کړې وه.
تر لاس یې ونیوم، له ډېرې خوشالۍ یې خبرې ګډې وډې کېدې. ویل یې نژدې سېند رانه وړی وې خو خدای ته شکر چې بېرته یې سلامت راکړې.
د باغ په منځ کې د اوبو نری لښتی بهېده چې سړې او پاکې اوبه په کې روانې وې. دواړه د لښتي یوې او بلې غاړې ته کېناستو راته ویې ویل:
-زلمیه ډېره درنه خپه یم.
-ولې خدای دې مه رانه خپه کوه. زه خو هېڅکله هم تا نه خپه کوم.
-ډېر وخت کېږي چې زما پوښتنه دې نه ده کړې.
-اکبر ماما مې هره ورځ مور ته را روان وي هغه دوه پښې په یوه موزه کړې دي وایي چې خامخا به له مور سره خپلوي کوي.
له دې خبرو سره به یې له سترګو یوه یوه اوښکه هم ګرېوانه ته پرېوته، ویل یې نه چې هېره کړې مې وي او په بل چا مې زړه بایللی وي.
ومې ویل چې هېڅکله به هم داسې ونه شي، ته څه وایې زه له تا پرته یوه لحظه هم ژوند نه شم کولای. خو درسونه مې را باندې زور شوي دي. تېرو ورځو کې مې آزموینې وې چې په ښه نومره په کې بریالی شوم. په دې خبره مې ډېره خوشاله شوه، زما په بریا سره یې اوښکې پاکې کړې او مبارکي یې راکړه.
د ګل پاڼې ګیلې لا خلاصې نه وې چې وړوکی ورور یې په منډه راغی.
ګل پاڼې ته دلته څه کوې؟

ژر راشه چې کور کې مېلمانه دي.

-څوک دي ولې وارخطا یې؟

-اکبر ماما دی ستا دسمال وړي، مور ویل ژر راشه چې خبره خلاصه ده.

-گل پاڼې چیغه کړه.

-څه شی! دسمال!

مخ ته یې څپېړې ور واچولې، پوړنی ترې ولوېد، په چیغو شوه او په ځمکه بې حاله ولوېده.

## شهیدې نکریزې

د خنداگانو او دریا له نرمو غړونو ډکه کلا له د باندې نه داسې ښکارېده لکه نوی سپړېدلی غاټول چې د حیواناتو له پښو لاندې شوی او بیا یې سر پورته کړی وي.

سپینږیرې په خپله مېرمن غږ کړل: وه بلا! درې ځله یې ناره کړه، خو ټیټ غږ به یې په کلا کې د ماشومانو او مېرمنو په غړونو کې ورک شو او د سپین سارې مېرمنې تر کمزورو غوږونو نه رسېده.

بل ځل یې خپل ټول زور ستوني ته راټول کړ او په لوړ غږ یې ناره کړه: کښېښېښې!

میرمن یې غږ وپېژاند او په منډه یې مخ ته راغله.

– خیر دی چې د کلا منځ ته راغلی یې او نارې وهې؟ سپینږیری به یې خو کلا له ښځو ده، یو کوچنی به دې رااستولی وای.

– ولا ښځې! له خوشحالۍ مې زړه داسې ډک دی چې هر څه یې رانه هیر کړي دي. خیر، چا سره دې چې د ناوې کور ته په نکریزو د تلو وعده کړې ده، ژر یې تیارې کړه، موټر او سړي

تاسې ته انتظار دي.

– نه نه، مورې په پښو ځو. ښځې وایي د نکریزو د شپې همدا خوند وي چې پر لاره دریا ووهو.

– وه ښځې، شاوخوا پښتانه راچاپېر دي، دا مو کوم نوي رواجونه پیدا کړي دي، که خوشحالېږئ او که خپه کیږئ، د پیاده تګ اجازه نه درکوم.

شېبه وروسته موټران د ناوې د کور دروازې ته ودرېدل. هلته پېغلو او سپین سارو ناوې ته لاسونه سره کول او دلته ډله ځوانانو زوم رانیولی و، چا ټوکې پرې کولې او ځینو یې دفاع کوله. یو نژدې ملګري یې په لوړ غږ وویل:

– خچه ګوته یې ورسره کړئ او په ورغوي یې زړه واچوئ، چې غشی ترې وتلی وي.

– دا څه وایې؟ اوس خو یې باید زړه ټکور شي او ته غشی ترې باسې.

د ځوانانو لا د لاس په سره کېدو مشوره نه وه راغلې چې د زوم د ورور تلیفون ته زنګ راغی، نبکه یې و.

– مورې در روان یو، کور ته حال وکه چې شنې او تورې چاوې تیارې کړي.

– سمه ده حاجي لالا، چاوې تیارې دي، تاسې دې خدای په خیر راوي.

سپینږیري په یو زلمکي غږ کړل: ورشه هغه زمونږ ښځو ته وا تیارې شئ چې ځو، ناوخته دی.

د ناوې پلار لوړه وکړه: حاجي لال په خدای که پل لا واخلې، دا د خوشحالۍ شپه به دلته تېروئ، مه کوه چې ښځې خوشحالي وکړي، بیا یا الله یا نصیبه چې داسې خوشحالي مو نصیب شي.

– تا ته نور تکلیف نه درک... د چورلکو غږ یې خبره په خوله کې وچه کړه.

– یا الله ته خیر پېښوې!

– خدای دې خیر کړي، ورشه او ژر غږ پرې وکړه چې هسې کور ته ځان ورسوو، د کفر اولاد بیا چورلکې راپورته کړي، چې د چا په کور به غم مېلمه کړي.

سپین ږیرې حاجي لالا د اینګور په رنګارنګ ځوندو او زرینو چرمو اوبدلی دسمال په خپل سپین پاچ برسېره هوار کړ او په ترهېدلې ټیټ غږ یې وویل: خدای دې راته مبارکه کړي.

موټرې لا کلا ته نه وې رانژدې شوې چې له پاسه درز شو، له شاوخوا څخه هم ناتار ډزې وشوې او

د موټرو په اوسپنو د لګېدونکو وړو مرمیو سپرغۍ د اسمان پر لور والوتلې. هلته د کلا له مهمان خانې د بارودو سرې لمبې پورته شوې.

د سپینږیري سپین پاچ په نژدې فصل کې ریتاړې ریتاړې پروت و او د ناوې دسمال د څنځلو په خاردارو ښاخونو کې ټوټه ټوټه زړېده.

د هلمند د موسی کلا د دې خړ کلي خلک له لومړي درز سره وپوهېدل چې په کلي یې د ناټو عسکرو او د هغوی د کورنیو ملګرو لخوا چاپه وهل شوې ده. هیڅوک له کورونو نه راوتل، خو عسکر یې کورونه ته ورتلل او یو یو یې ویشتل، له هوا نه پرې تورو چورلکو ټوله شپه مسلسله بمباري کوله.

سهار ژوندي پاتې شوي کلیوال سترې ستومانه په کلاګانو او فصلونو کې په جسدونو راټولولو لګیا و، نیم کلیوال هدېرې ته د قبرونو کندلو لپاره تللي و.

څو تنه ځوانان چې د ستومانۍ له وجې د نکریزو په شپه د زوم کور ته نه و راغلي، هغه وخته زبون وهلي شول چې د ځوانانو له وینو سره ګډې شوې نکریزې یې د مهمانخانې په دیوالونو پورې نښتې ولیدلې.

یو ځوان د زوم د پرې شوي لاس خپړه ولیده چې په خچه ګوته یې نکریزې لګېدلې وې، ورو یې له ځان سره له غرېوه په ډک غږ وویل:

شهیدې نکریزې.

## سوالګر

یو سوالګر د هندوانو پلورونکي ته ودرېد او په خواره خوله یې وویل: وروره غریب یم، څه نه لرم، که د الله د رضا په خاطر یوه هندوانه راکړې!!

دوکاندار په هندوانو کې وکتل او هغه بې کاره هندوانه چې، هیچا نه رانیول، مسکین ته ورکړه...

سوالګر چي هندوانې ته وکتل، پوه شو چې د خوراک شی نه ده... په جیب اخته شو او شېبه پس یې څو پېچلي نوټونه را وایستل، هندوانه پلورونکي ته یې ورکړل او ویې ویل: ددې روپیو په اندازه راته یوه بله هم راکړه...
دوکاندار په هندوانو کې یوه ښه سمه او روغه دانه را واخیستله او سړي ته یې ورکړه... سوالګر دواړه هندوانې اسمان لوري ته ونیولې او ویې ویل: الهي! ستا بنده ګان وګوره! ستا لپاره یې راته دا خرابه او ورسته هندوانه راکړه او د پیسو له پاره یې دا روغه او خوږه هندوانه راکړه!!!

## شهیده مینه

خندا اخیستی وم دومره خندا، چې هېڅ مې ځان نشو اداره کولی. موبایل مې وشرنګېد ښې جیب ته مې لاس کړ خو موبایل مې کیڼ جیب کې و.
رنګ مې زیړ شو تندی مې راټول کړ په کیڼ لاس مې سترګې وسولولې. (مستعار نوم) اوهو څلور کاله وروسته یې اړیکه نیولې وه.
له ملګرو مې فاصله واخیسته، سینه کې مې درزا وه ته وا دوهمه نړیواله جګړه پکې پیل ده ساه مې نشوه اخیستی.
په نښتې او بنده ژبه_
حاحاحا هلوو!
بلې_ سلام علیکم
غږ نا اشنا و، زیاته یې کړه ( زه یې دوسته یم، ناروغه شوې وه کینسر یې درلوده ویل یې چې سترګې مې پټې شوې دې شمېرې والا ته خبر ورکړه او څو شېبې وړاندې په داسې حال کې چې

**ستا نوم یې اخیست ش شه ششش شهیده شوه).**

**د وران برېک غږونه شول ډریور جمپ ته برېک ونیوه زما سترګې لمدې وې د خیال نړۍ یې راړنګه کړه. اسویلی مې وکړ لوی سفر را تر غاړې و بیا لکه چې خوب وړی** وم.

# یادونه

**د کیسو لیکوالان نه وه راته معلوم نو په**

**همدې خاطر مې ورسره یاداشت نه کړل،**

**همدا کیسې د بیلابیلو  لیکوالانو دي.**

**د نورو مختلو pdf کتابونو د ترلاسه کولو لپاره**
**زموږ د تلیگرام چینل څخه لیدنه وکړئ.**

**https://t.me/ayapohizy**

**ستاسو ورور عابد**



Download from:aghalibrary.com

# پاي